الحاج الهام الدين قیام



# بی واکه ملت

وطن لرو خوخپل واکدار نلرو
دخپلوکړو وړو هیڅ اختیارنلرو

مونږد بابا په توره فخر کوو
د خپل وخت هیڅ یو افتخارنلرو

د ژوند هرخه په سوال له نوروغواړو
مونږد خپلواک ژوند هیڅ افزارنلرو

د ارګ واکدار راته پردي خوښوي
مونږ پکی هیڅ مهم کردارنلرو

د هرتصمیم واک مود بل سره دی
پکی هیڅ حق د کوم اظهارنلرو

بیاهم دعواد خپلواکی لرو مونږ
مونږد ښو بدو هیڅ معیار نلرو

مونږد هرخه په کيف وکان پوهيږو
خوهيڅ جرئت اوس د اقرار نلرو

يو سوله ييز قيام ضرورډی خلکو
بله د خپل خلاصون هيڅ لار نلرو
الحاج الهام الدين قيام
والدورف/جرمنی
۲۰۱۴/۰۸/۱۷
د ګران هيواد د خپلواکۍ د کليزی په تړاو.